# د افغانستان لپاره د سولې یو تګلاره

## د پالیسۍ لنډیز

د ۲۰۱۶ د می میاشت

دسولی او ډیموکراسۍ لپاره د برابری موسسه

OPEN SOCIETY FOUNDATIONS

CPAU

EPD EQUALITY for Peace and Democracy

HREVO Human Rights & Eradication of Violence Organization

PTRO

د اړیکو دفتر • دفتر ارتباط
TLO The Liaison Office

# د پالیسی لنډیز

## سریزه

په ۲۰۰۱ کال کی د طالبانو د رژیم د سقوط نه وروسته، د هیواد د شتمن کیدلو او ثبات د لرلید په اړه یو ډول خوشبینی رامنځته شوه. د هغې نه وروسته کلونو کی، په افغانستان کې د ولایتی، پارلمانی او د ولسمشرۍ د ټاکنو له لاری په ډیموکراتیک کېدون کی د پام وړ زیاتوالی ولیدل شو او همدارنګه په پوځي او د بیارغونې په برخه کی د نړیوالې ټولنې هڅی او مرستی تر سترګو شوې.

د ۲۰۰۶ کال راهیسې، نسبی امنیت د کمیدو او خرابیدو پر لور ګام واخیست او د حکومت په وړاندې د وسله والو مخالفو ډلو جنګ زور واخیست. طالبان بیا را څرګند شول او د هیواد په بیلابیلو سیمو کی یی د مرکزی حکومت مشروعیت او واک وننګاوه.

د سولی عالی شورا د ۲۰۱۰ کال د جون په میاشته کی د افغانستان د حکومت له خوا تاسیس شو تر څو په هیواد کی د سولی او بیا ستنیدلو پروګرام پلی کړی. دا د مخالف جنګیالیو ډلو، په ځانګړی توګه د طالبانو سره د خبرو اترو او د سولی د بحثونو د هڅو د عملی کولو په توګه وګڼل شو. د سولی عالی شورا له ۶۹ غړو څخه متشکل وو، چی لدې ډلی ۹ غړی یی ښځینه وو.

سره لدې چې د سولی عالی شورا په ۳۴ ولایتونو کې حضور لری، خلک د دوی د فعالیتونو له پایلو راضی نه ښکاریدل. د سولی په پروسه کی د شفافیت نه شتون او همدارنګه د تصمیم نیونې په پروسه کی د ښځو کمزوری ګډون او د دوی سمبولیک رول د خلکو د سترو اندیښنو څخه شمیرل کیدل.

له همدې امله، د افغانی مدنی ټولنو یو ائتلاف (CAPAU, EPD, HREVA, PTRO او TLO ) را منځته شو تر څو د هیواد په کچه د سولې د لرلید په اړه سلامشورې ترسره کړی او دا کار د افغانستان د پرانیستې ټولنې (OSA) په سخاوتمندانه ملاتړ ممکن شو. د سولې د لرلید لپاره سلا مشورې د ولسوالی او ولایت په کچه ترسره شوې تر څو د افغانستان د سولې او بیا ستنیدلو د پروګرام، د سولی د عالی شورا او همدارنګه په عمومی توګه د سولې د پروسې په اړه د خلکو اندیښنې راټول شی. د دې اندیښنو پایلې د ملی او نړیوالو سمپوزیمونو له لاری تحلیل او تجزیه شوې چې د هغوی اړونده موندنې په دی پالیسی کی لنډیز شوی دی.

## اندېښنې او مخ په وړاندې لارې




د ملـی سـلا مشـورو د برخـی پـه توګـه، افغـان مدنـی ټولنـو شـاوخوا ۵۰۰ تنـو فعالینـو سره مرکـې تـرسره کـړې. پـه همـدې ډول پـه سـیمه ییـزه کچـه د افغانسـتان د سـولې او بیـا پیوسـتون د پروګـرام د اداری کارکوونکـو، د سـولی د شـورا د غـړو او همدارنګـه د بیـا یوځـای شـوو جنګیالیـو د ۵۶۰ تنـو سره مرکـې تـرسره شـوې. د نمونـه ګروپونـو د تجربـو تنـوع دې تـه لاره هـواره کـړه تـر څـو پـدې پـوه شـو چـی د افغانسـتان سـولې او بیـا پیوسـتون پروګـرام د ټولنـی پهبیلابیلـو سـطحو کـی څـه ډول عملـی کارونـه تـرسره کـړی.

د ګـډون کوونکـو د تنـوع سره، پـر یـو سلسـله کلیـدی موضوعاتـو بانـدی د دوی تـر منځ پـه حیرانوونکـی توګـه توافـق موجـود وو. شـاوخوا ټولـو مرکـه شـوو ګـډونوالـو د سـیمه ییـزو خـبرو اتـرو او د عامـه پوهـاوي څخـه ملاتـړ څرګنـد کـړ او د ملـی یووالـی لـه حکومـت څخـه یـی وغوښـتل چـی هڅـه وکـړی تـر څـو طالبـان او ګاونـډی هیوادونـه پـه بحثونـو کـی دخیـل شـی.

پـه ورتـه وخـت کـی، پـه داسـی حـال کـی چـی د نـورو پخوانیـو نوښـتونو پـه نسـبت د افغانسـتان د سـولې او بیـا پیوسـتون د پروګـرام پـه اړه ډیـره عامـه پوهـه موجـوده وه، پـه عمومـی توګـه د دې پروګـرام د حالـت، اوسـنیو موخـو، پـه سـیمه ییـزو خـبرو اتـرو کـې د دې ونـډې، او د ملـی یـووالي حکومـت لانـدې د دی پروګـرام د راتلونکـی پـه اړه ابهامـات موجـود وو. پـه عمومـی توګـه د سـولې پـر پروسـې د بـاور درلودلـو سربیره، ګـډونوالـو د سـولې پـه اوسـنی پروسـه کـی د شـفافیت د لړوالـی او اعتبـار پـه اړه اندیښـمن وو. کیـدای شـی لـه همـدې املـه، د سلامشـورو پـه بهیـر کـی د سـولی د عالـی شـورا او د سـولی د ولایتـی کمیټـو د اصلاحاتـو څخـه کلـک ملاتـړ تـر سترګو شـو، تـر څـو د هغـه څـه څخـه چـی مرکـه کیدونکـو پـراخ فسـاد او بـې ځایـه طرفـداری ګنلـه، مخنیـوی وشـی.

# د سولې د تګلارې په اړه ملي سمپوزیم




د۲۰۱۶ کال د جنورې په میاشته کې، د افغانستان د ټولو ولایتونو څخه ۷۰ تنه د سولې فعالانو او د مدني ټولنو استازو د سولې د تګلارې په اړه په ملي سمپوزیم کې ګډون وکړ. د ټولو ګډون کوونکو له ډلې نیمایي یې ښځې وې، او د ګډون کوونکو او ویناوالو نظریات د تګلارې د موندنو په برخه کې چاپ شول. د ملي سمپوزیم پریکړه لیک، چې د ټولو ګډونوالو له خوا پرې هوکړه وشوه، ملي یووالي حکومت ته د سولې د تګلارې لپاره د مهمو ګامونو په توګه د لاندې تدابیرو د عملي کولو وړاندیز وکړ:

- د سولې د عالي شورا په جوړښت او ستراتیژۍ کې پر بشپړ او جامع اصلاحاتو باندې تمرکز؛
- د غیر قانوني وسله والو ډلو له منځه وړل او بې وسلې کول، او عین حال کې پخوانیو وسله والو ته د دایمي کاري زمینې برابرول ترڅو د سولې د پروسې سره د دوی پیوستون په آسانه توګه ترسره شي؛
- په موثره توګه د دوی د هڅو پیاوړې کول تر څو وتوانیږي د افراطیت او سخت دریځه نظریاتو، چې د مذهبي مدرسو او بهرنیو جنګیالیو له خوا تبلیغ کیږي، سره مبارزه وکړي؛
- د ټولنیزو خدمتونو، د ښوونې او روزنې او کاري فرصتونو د آسانتیا او لاسرسي په برخو کې د ښې حکومتوالۍ او د عامه پوهاوي لا پیاوړې کول؛
- د سولې د خبرو اترو په پروسه کې د مدني ټولنو ملاتړ او خوندیتوب؛ او
- د افغانستان د سولې او ثبات د پیاوړې کولو لپاره د سیمه ایزو هیوادونو او نړیوالې ټولنې سره د همکاریو ټینګښت

د سیمه ییز سمپوزیم لپاره د لارښود تر څنګ، کوم چې د سولې په برخه کې د نړیوالې کچې د کارپوهانو د را غونډیدو زمینه برابره کړه، پورتنې موندنې د هغو مدني ټولنو لپاره هم د رهنمایي زمینه برابروي کوم چې په ټیټه کچه د عدالت غوښتنې په برخه کې کار کوي. دغه وړاندیزونه د سولې پر هغو مهمو اړخونو باندې رڼا اچوي د کومو په برخه کې چې مرکه کیدونکې غواړي پرمختګ وګوري، او تائیدوي چې د خبرو اترو او همکارۍ له لارې کیدای شي پر شخړو باندې غلبه وشي.



# د سولې د ټګلارې په اړه سیمه ییز سمپوزیم

دغه خیرني موندنی او د ملی سمپوزیم وړاندیزونه د یو سیمه ییز سمپوزیم له لاری د سیمه ییزو او نړیوالو کارپوهانو سره شریکې شوې. د دغه پروګرام پر لاره اچونه یو ځل بیا د افغانستان د پرانیستې ټولنې (OSA) لخوا او همدارنګه د پاکستان، هندوستان، تاجکستان، ترکیې، جرمني، او د انګلستان د کارپوهانو په ګډون ممکنه شوه چې د ۲۰۱۶ کال د مارچ په ۲۸- ۲۹ په کابل کی پر لاره واچول شو. د دوه ورځنی سمپوزیم بحثونه په افغانستان کې د جګړی پر ماهیت، د سوییلی آسیا په سیمه کی د سولی د تقویه کولو په رابطه د Track II/۱,۵ پر اغیزمنی ونډې، او همدارنګه پر سیمه ییز امنیت باندی د افغانستان د سولی اغیزې او د ملګرو ملتونو او د اسلامي همکارۍ د سازمان د





منځګړیتوب پر موضوعاتو متمرکزې وې.

یو ځل بیا، د راټولو شوو کارپوهانو د په زړه پورې تنوع سره سره بیا هم د سولی د پروسې پر ځینو مهمو اصولو توافق موجود وو. لومړی قوی اجماع دا وه چې تورلګول، په ځانګړی توګه هغه تورونه چې پاکستان ته متوجه دی، په سیمه کی د هیوادونو ترمنځ خبرو اترو کی کومه ګټه نلری. سربیره پردې، ډیرو کارپوهانو پر ولسی ډیپلوماسۍ ټینګار وکړ او دا یی په ډاګه کړه چې ولسی ډیپلوماسی کولای شی د اعتماد په رامنځته کولو او د همکاری په ټینګیدو کی چې په عین حال کی کومو خاصو رسمی تشریفاتو ته هم ضرورت نلری، مهمه ونډه ترسره کړی. بالآخره د دې ټکی په پام کی نیولو سره چې په افغانستان کی سوله کولای شی د سوییلی آسیا پر پرمختګ مثبته اغیزه ولری، ټولو ګډون کوونکو پر دې توافق درلوده چې ګاونډې هیوادونه باید ومنی چې د دوی شخصی ګټې د افغانستان د ثبات سره تړلی دی.



# د سولې د تګلارې په اړه سيمه ييز سمپوزيم



د سيمه ييز سمپوزيم مهمې سپارښتنې په لاندې ډول دي:

- د تاجيکستان د سولې د پروسې څخه ډير څه زده کيدای شي، چې په تاريخي لحاظ د سولې د برياليو خبرو اترو څخه شميرل کيږي، په کوم کې چې د افغانستان حکومت هم کليدي ونډه درلوده. په افغانستان کې د «لومړی امنيت» د مداخلې د اوسني ستراتيژۍ په مقابل کې، د سولې مرکچيان بايد ومنې چې په سيمه کې د طالبانو حضور به ناوړه پايلې ولري او په خبرواترو کې بايد ټول اړخونه شامل وي او يوه سياسي هوکړه اړينه ده.
- د خبرواترو په يوه پراخ بنسټه تګلاره کې چې په هغه کې مدني ټولنې ګډون ولري کولای شي طالبانو ته د يواځنې غير حکومتي ډلې په توګه د مشروعيت ورکولو خطر لږ کړي او کولای شي په اصطلاح خاموش اکثريت ته آواز ورکړي.
- په مذاکراتو کې پر رول ورکولو سربيره ، مدني ټولنو سره بايد د خلکو د پوهولو په برخه کې او همدارنګه په هغو برخو کې چې انکشافي کارونه مخ پر ځوړ روان دي ، ملاتړ وشي.
- له سيمه ييزه پلوه، د افغانستان، هند او پاکستان ترمنځ اقتصادي همکاری ته اړتيا ليدل کيږي. دا به نومړو هيوادونو سره سيمه ييز ثبات ته د لاسرسي په برخه کې او همدارنګه د دندو د پيداکولو او سوکالۍ ته د رسيدلو لپاره د سولې لپاره د يوې ټينګې انګيزې او مشوق په توګه مرسته وکړي.
- د جګړې د قوي سيمه ييز اړخ له امله، د يوه نړيوال او د ښه شهرت لرونکي سازمان مداخلې او منځګريتوب ته اړتيا شته. د دې هدف لپاره، ګډون کوونکو ملګروملتونو ته د يو اعتماد وړ سازمان په توګه اشاره وکړه ځکه چې د اسلامي همکاريو سازمان ښايي د سولې د منځګريتوب په برخه کې کافي تجربه ونلري.

# پایله

د سمپوزیم د پورتنیو موندنو پر اساس، کارپوهان په دې وتوانیدل چې خپل ورځنی نظریات راټول کړی. دغه مهمې سپارښتنی نړیوالې ټولنې، حکومتونو او د مدني ټولنې سازمانونو سره تړاو لری او د دوی لخوا یو شان د تطبیق وړ دی.

د تګلاری پروژې دا حقیقت تائید کړ چې ځایی خلک د سولی په پروسه کی دیر دخیل دی. هغه سازمانونه چې په بنسټیزه کچه کار کوی هڅول کیږی ترڅو د جګړې د ختمولو په اړه او همدارنګه په لوړه کچه د کیدونکو زیاړونو په برخه کی خپل آواز اوچت کړی. سربیره پردې، د ګډون کوونکو له نظره، د افغانستان او پاکستان تر منځ بې باوری کیدای شی د رسمی منځګریتوب په نسبت په عملی توګه د محلی نوښتونو په واسطه له منځه یوړل شی.

موندنو څرګنده کړه چې بدلون یواځې د مدنی ټولنې د فعالیت په واسطه نه رامنځته کیږی. برعکس، د افغانستان د حکومت له لوری د سولې د عالی شورا د اصلاح، د حساب ورکونی په برخه کی اقدامات او په ولسواکو نهادونو باندی د اعتماد او باور د را ژوندی کولو په اړه یو قوی توافق موجود وو. په عین حال کی، کارپوهانو د طالبانو په اړه د یو څرګند او با ثباته پالیسی د درلودلو غوښتنه وکړه او لدې ډلی یی وغوښتل تر څو د ملکی وګړو پر وړاندی تاوتریخوالی تقبیح کړی او که چیری دوی غواړی د سولی په خبرو اترو کی ونډه واخلی نو باید د اساسی قانون درناوی وکړی. که چیری دغه غوښتنې ومنل شی،

ځینو څرګنده کړې چې خلک د مخالفو ډلو د مشرانو سره د سیاسی هوکړې لپاره چمتو دی، پدې شرط چې د تیری لسیزی پر لاسته راوړنو کومه معامله ونشی.

د نړیوالو ټولنی له اړخه، کارپوهو ویناوالو پر دې توافق درلوده چې ملګری ملتونه د سولې د منځګړیتوب په برخه کی تر ټولو د اعتماد وړ سازمان دی. خو سره لدې ټینګار پر دې وو چې یواځی دی د امنیت پر برابرولو تمرکز ونشی، بلکه په سیمه ییز کچه سوکالی، چې د سولی لپاره ضروری دی، همکاری او ثبات هم په نظر کی ونیول شی. داسی یو استدلال هم موجود وو چې د پرمختللو هڅو له لاری د مالي معاملو تعقیب کولای شی چې د مخالفو وسله والو ډلو د مالی تمویل لاری قطع کړی. په هر حال، هغه څه چې تر ټولو زیات وربانډی ټینګار کیده، د رسمی کانالونو برسیره د ټولو شمولیت وو، کوم چې د محلی خلکو په منځ کې سوکالی په بر کی نیسی او همدارنګه د سیمې ګډ ثبات او هوساینی ته پاملرنه کوی.

په پای کې پرله پسې سمپوزیمونو وښودله چې د شخړو لاملونو پیچلی او دایم د تغیر په حال کی دی. ددې لپاره چې د پالیسي جوړونکو هڅی اغیزمنی وي، په محلی، ولایتی او سیمه ایيزه کچه باید ځینی باید دوام وموومی. په داسی تحلیل او تجزیه کی باید ټول هغه نهادونه، چې د تګلاره پدې پروژه کی دخیل دی، برخه واخلی. په همدې ترتیب داسی ځینه باید په هره سطحه د ټولو هغو ګټو منعکس کوونکی وی چې د افغانستان د خلکو په اوږد محاله سوله کی نغښتی دی.